مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رناګل آریوبزی

۲۰۲۲/۰۳/۰۵

# د کرستال ګلوله

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

یو وخت یوې جادو ګرې درې زامن در لودل. درې واړه ورونه یو په بل ګران وو، خو بوډۍ جادو ګرې په خپلو زامنو باور نه درلود او ډاريده چې واک او د جادو ګرۍ ځواک به ترې واخلي. له دې امله یې دمشر زوی نه په خپله جادو د هسکو غرو شاهین جوړ کړه او هلته په کومه پرخه اوسیده او کله کله په لوړ اسمان کې په لویو لویو دورو ښکته او پورته د الوتلو په حال کې لیدل کیده. دوهم زوی یې په نهنګ واړوه چې دلوی دریاب په تل کې اوسیده او یوازې هغه دوخت به په سترګو لیدل کیده چې داوبو لویې څپې به یې پورته لوړې شندلې. دواړو به هره دورځ یوازې دوه ساعته د انسان حیره در لوده. کشر زوی یې وډار شو چې دی به هم په کوم ژوي واړوي، خرس اویابه لیوه ترې جوړ کړي، نو ځکه په پټه ترې وتښتېد. ده اوریدلي و چې د طلایي لمر په قصرکې یوه جادو شوې شهزاد ګۍ ناسته ده او غواړي چې ازاده شي. یوازې هغه دخوک د دې دازادولو جأت کولی شي چې له ځان نه تیر وي. درویشت زلمیانو په دې لارکې ژوند له لاسه ورکړ او په ډیرسخت اوله رنځونو ډک ژوند مره شول، یوازې یو کس پاتې دې او تر هغه وروسته بل څوک هغې خوا ته د ورتګ اجازه نه لرې. داچې دی یو زړور زلمی او په زړه کې یې هیڅ ډار نه و، نو نیت یې وکړ چې د طلایي لمر قصر ته به ورځي. ډیر موده هرې خوا ته پسې وګرځید خو پیدا یې نه کړ، ترڅو چې په یوه ځنګل ور برا برشو او په دې هم نه پوهیده چې دځنګل نه د وتو لار چیرته ده. ناڅا په یې دوې لویې بلاګانې ولیدې چې پهلاسو اشاره ورته کوي او ځانو ته یې بولي. دی ورغی او بلاګانو ورته و ویل چې:« موږ دواړو په دې خولۍ دعوه ده، خو داچې دواړه یو شان زور او ځواک لرو، نویوه هم په بله زورروه نه شوه. تاسې دا کوچني انسانان تر موږ ډیر هوښیار یاست، نو ځکه دا پریکړه تاته در پریږدو.»هلک ورته و ویل چې:« تاس ولې په دې زړې خولۍ دومره جنګ او دعوه کوئ؟» بلا ګانو ورت و ویل چې:« ته د دې خولۍ په کمال خبر نه یې، دا د جادو خولۍ ده، که څوک یې په سر کړي اوهرې خوا او هرځای ته چې وغواړي لاشي، په هغه شیبه کې به هلته وي.» هلک ورته و ویل چې:« دخولۍ ماته راکړی، زه تر یوه بریده له تاسې لیرې ځم، تاسې به زما دغږ سره سم رامنډې کړی او هر یو چې زر راورسید خولۍ به د هغه وي.» ده چې خولۍ په سرکړه، نو روان شو، فکر یې د شهزاد ګۍ سره و، دا لویې بلا ګانې یې هیرکړې او په خپله لار روان و چې دزړه له تله یې هوسیلی را و وت او ویې ویل چې:« کاشکې اوس دطلایي لمر په قصر کې وی.» په کومه شیبه کې یې چې دا خبرې له خولې نه راوتلې چې ګوري د لوړغره په سرد قصر د دروازې په دمخکې ولاړ دی.

قصر ته ور ننوت، تولې کوټې یې یوه په بله پسې ولیدې او په وروستې کوټې کې یې شهزاد ګۍ پیداکړه. دشهزاد ګۍ مخ دایرو په شان سپین، له ګوړینجو د ک، سترګې یې خړې او وینتان یې سره وو. هلک د شهزاد ګۍ په لیدو سخت وډار شو او ویې پوښتله چې:« ایا ته هغه شهزاد ګۍ یې چې دښکلا اواز په ټوله دنیا کې خپوردی؟»شهزاد ګۍ ځواب ور کړ چې:« دا زما اصلي څیره نه ده، زه دانسان په سترګو کې داسې بې دوله او بې شکله ښکارم، ترڅو ته یوه شي دچې زه څنګه ښکارم، دې آینې ته وګوره، هغه هیڅوک نه غولوې اوزما اصلي څیره درښیي.» بیایې هلک ته آینه ورکړه. هلک په آینه کې دیوې دومره ښکلې پیغلې انځور ولیده چې په ټوله دنیا کې یې ساری نه درلوده. دانځور په لیدو دومره خواشینی او غمګین شو چې له سترګو یې اوښکې وڅځیدې. بیایې شهزاد ګۍ ته و ویل چې:« زه د هیڅ ډول خطر نه نه ډاریږم، دومره راته ووایه چې ستا دازادولو لار کومه ده؟» شهزاد ګۍ ورته و ویل چې:« څوک چې د کرستال ګلوله تر لاسه کړي اوجادوګر ته یې مخامخ ونیسي، د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

جادوګرد جادو ځواک ماتيږي، زه ازاديږم او خپله اصلي بڼه تر لاسه کوم.» بيا يې ژور اوسيلی وايست اوزياته يې کړه چې:« ځينو خو خپل ژوند په دې لار کې له لاسه ورکړه، خو په تا مې، ای ځوانکيه! ډير زړه سوزي چې ځان له دې لويو خطرونو سره مخامخ کوې.» زلمي و ويل چې هيڅ شی زما مخه نه شي نيولی، خو دومره راته و وايه چې څه بايد وکړم.» شهزادګۍ ورته و ويل:« چې داسې وي نو بايد په هرڅه پوه او خبر شې.کله چې دهغه غره له سر نه چې قصر په ولاړدی، ښکته لاړ شې، هلته دچينې په غاړه يو وحشي خوسند ر ولاړ دی، ته به دهغه سره مقابله وکړې. که بخت درسره مرسته وکړه او په هغه بر شوې، نو دهغه له تن څخه په يو داور الو تونکی را پورته شي، دالو تونکي په نس کې داور سکروټې په شان يوه هګۍ ده او دهګۍ په منځ کې دکرستال ګلوله ده. الوتونکی په خپله خوښه دا هګۍ نه غورځوې، ترحو چې دی کار ته مجبور نه شې. که په مځکه ولويږي، نو په شاوخوا کې يې هر څه اور اخلي او سوزي او ورسره سم هګۍ دکرستال ګلولې سره يو ځای ويلې کيږي. په دې صورت کې په ټولې هلې ځلې بې ګټې شي.» ځوانکی ښکته د چينې په لور روان شو، هلته دا وحشي خوسندر ولاړ و او دهلک په رمباړو او ټو پونو شو. دسختې او اوږ دې مقبلې نه وروسته په دې بريالی شو چې به خپل خنجر د خوسند ر نس څيرې کړي او مځکه پريوت. ورسره سم يط له ځانه داور الوتونکی راو وت او غوښتل يې چې په تيښته کومې خوا ته ولوزي، خو په دې شيبه هغه شاهين ـ د هلک ورور ـ چې پاس په وريځو کې الوته، په هغه پسې شو او د درياب په لور يې تيښتې ته مجبور کړ، دخپلې تيرې مښوکې د برله پسې بريدونو له امله يې په داس تنګسه را ګير اود هګۍ اچولو ته مجبور کړ. هګۍ په او بو کې ونه لويده، د درياب په غواړه ديوه ماهي لويدونکې په کوټنۍ ولويده چ ورسره سم لوګي او لمبې ترې را پور ته شوې. په دې شيبه کې يې ډا بل نهنګ شوی ورور په اوبوکې په لامبو په خپل ټول زور را پورته شو چې داو په څپه يې اور مړ شو. هلک دهګۍ په لته کې او له نيکه مرغه يې بيامونده. هګۍ ويلې شوې نه وه، خو داچې ناڅاپه د درياب سړې اوبه په تويې شوې، پو ټکی يې يو څه ګوړينجې شوی و، خو د کرستال ګلولې ته تاوان نه و رسيلی او هلک په اسانې د هګۍ نه دکرستال ګلوله را وايستله.
کله چې ځوانکی جادو ګر ته ورغی او په مخې يې دکرستال ګلوله ونيوله، هغه ورته وويل چې:« بس، زما دجادو ځواک اوبه شو. ته سر له نن څخه د دې طلا يې لمر قصر پاچا يې او هم کولی شې چې ورونه دې له جادو ازاد او بيرته دانسان په بڼّ کړې.» ځوانکي تر هر څه دمخه شهزادګۍ ور ودانګل او کله چې کوټې ته ور ننوت، نو ګورې چې دشهزادګۍ دښکلا شغلې هرې خوا خپرې دي. دواړو په ډيره خوشالۍ د واده ګوتې يو بل ته ور کړې.

ليکونکي: Brüder Grimm
ژباړن: رڼاګل آريوبزی

Liste von Märchen - Grimms Märchen - Grimmstories.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ